د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**آغلی کریستینا اوګز، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم د دفتر مشره په افغانستان کی**

**نورا نایلند، د یوناما د بشری حقونو د څانګی مشره په افغانستان کی او**

**داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د دسمبر د میاشتی لمړی نیټه، کال ۲۰۰۸*

## یوناما د بشری حقونو څانګه د خبرو ټکي-

سهار مو نیکمرغه/ سلام علیکم. څرنګه چی نیلاب مخکی وویل زما نوم نورا نایلند دی او زه د یوناما د بشری حقونو د څانګی مشره او د دی په خوا کی زه د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د عالی کمیشنری څخه هم استازیتوب کوم.
د توقیف په باره کې له خبرو د مخه چې پخپل سر توقیف ده، یا په بله وینا، هغه توقیف چې قانوني نه دی، زه غواړم یو څو کلمې د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې د زیږون د ۶۰ کالیزې په باب ووایم.

د زیږون ورځې او کالیزې معمولا د یادولو او همدارنګه د لمانځلو وخت دی. په څرګنده سره د لمانځلو لپاره هم دلته په افغانستان کې او هم د نړۍ شاوخوا ډیر څه شته. په دا تیرو ۶۰ کلونو کې ډیر بریاوې لاس ته راغلي دی چې د بشر د حقونو اجندا پر مخ ولاړه شي.

دلته په افغانستان کې او هم په نورو ځایونو کې، د بشر د حقونو په باب بهتره با خبرتیا یو مرکزی او مهم بریالیتوب دی. ددې خبرې په پوهیدو سره چې تاسو د بشري نسل د غړیو په توګه ذاتي حقونه لرئ او دا په دې لاره کې لومړنی ګام دی چې تاسو محترم یاست. په دې وروستیو کلونو کې، ملګرو ملتونو په تکرار سره د سولې، عدالت او پایښت لرونکې پراختیا لپاره د بشر د حقونو مرکزیت په ګوته کړی دی.

اوس اجازه راکړئ چې د توقیف موضوع ته را وګرځم، چې هغه د نن سهار د رسنیو د کنفرانس د پام وړ ټکی دی.
ملګري ملتونه او د هغه ډیر شریکبانی، البته د دولتی شریکبانو او مدنې ټولنې د فعالینو په ګډون، د افغانستان له خوا د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې ۶۰ می کالیزې د لمانځنې د یوې برخې په توګه، یوناما، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د ادارې او د ملګرو ملتونه د ښځو د پرمختیا د پانګې له خوا د یوې اوونۍ فعالیتونه پیل کیږي چې د توقیف په اړه موضوع ګانو په تیره بیا د پخپل سر توقیف په باره کې دی.

د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه وایې، چې هر څوک او هر وګړي باید له وقار او عدالت څخه برخمن وي، د هغو اشخاصو په ګډون چې په جرمي تورونو شکمن دی، ټول افغانان د دې حق لري چې د قانون د نافذولو له مسوولینو او قضا سره په معاملو کې په وقار او عدالت سره چلند ورسره وشي.

په افغانستان کې د عدالت او قانون نافذولو سیستمونه لا هم د ودې په حال کې دي- یو شمیر ستونزې د زیرمو او د پولیسو او قاضیانو د ظرفیت نشتوالی د قانون د نیمګړې پوهې په ګډون دي. ددې نتیجه دا لاندې شیان کیدای شي:

توقیف، محکومیدل او د اشخاصو سزا چې کیدای شي هغوي بې ګناه وي،
د هغو خلکو د حقونو ناوړه کارول چې په توقیف کې دي.
هغو اشخاصو ته په سزا ورکولو کې پاتې راتلل چې هغوي په حقیقت کې د جدي جرمونو مرتکب دي.

یوناما او د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۶ له نومبر څخه د ۲۰۰۸ تر جون پورې د ۲۰۰۰ قضیو څیړنه او کتنه سرته ورسوله د دې لپاره چې په افغانستان کې د توقیف په کړنو بهتر پوه شي.

د دغې څیړنې پر اساس، موږ په خاص ډول د پخپل سر توقیف په باره کې اندیښنه لرو ځکه چې دا کار:

د افغانستان له اساسي قانون او د بشر د حقونو له نړیوالو معیارونو څخه چې افغانستان ورته ژمن دی، سرغړوي.

آزادي او لازمي قانوني پروسې ته د هر افغان حق تر پښو لاندې کوي.
د توقیفیانو کورنۍ له هر ډول نه مخامخ کیدلو وړ اجتماعي- اقتصادي ستونزو سره مخامخ کوی ځکه چې عایدات او اجتماعي موقف په کې له لاسه وځي.
د افغانستان په توقیف ځایونو کې د ګڼې ګوڼې سبب کیږي چې هغه کیدای شي د نورې بد چلنۍ لامل شي.
په دولت باندې د خلکو باور او ویسا له منځه وړي.

د توقیفیانو حقونو ته پاملرنه د دې معنا نه لري چې یوناما نه غواړي عدالت وشي، او یا دا چې موږ په دې باور یو چې هغه کسان چې په جنایي جرمونو تورن دی باید سزا ور نه کړي شي. موږ په دې باور یو چې کوم کسان چې واقعا په جرمونو ملامت دي باید هغه کسان وي چې سزا ورکول کیږي.

د دغه کار کولو لاره دا ده، چې دا ډاډمن کړو کوم طرز العملونه یا کړنلارې چې د نیوني، توقیف او محاکمې په قانون کې ځای په ځای شوې دی، درناوي او احترام یې کیږي.

افغان دولت دا درک کړې ده چې په افغانستان کې له پخپل سر توقیف سره یوه ستونزه شته او ژمنه یې کړې ده، له دغې ستونزې سره د افغانستان په ترون لیک، د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژي، او د ملي عدالت په پروګرام کې مبارزه وکړي.

البته هغه اشخاص چې د یوې مناسبې محاکمې په پروسه کې په جرمونو تورن ثابت شوی دی، باید حساب ورکړي، اول ټولې ټولنې هغو سیستمونو ته اړتیا لري چې عادلانه دي او عادلانه معلومیږي. دا مجرم او ګناه کار دی چې باید سزا ورکړل شي، نه بې ګناه او معصوم.
د دې کار د ترسره کولو لپاره په کار دا ده چې اطمینان حاصل شي هغه طرز العملونه چې د نیونې، توقیف او محاکمې په اړوند په قانون کې ځای په ځای شوی دی، درناوی یې کیږي.

په داسې حال کې چې د دغو ستونزو د چارې کولو لپاره د دولت، مدني ټولنې او ملګرو ملتونو له خوا مثبت ګامونه اخیستل کیږي، موږ دې ته اړ یو چې په ګډه کار کولو ته دوام ورکړو څو دغه ستونزه په اغیزناکه توګه له منځه یوسو.

د دغې موضوع بریمن چاره کول به د یو دیموکراتیک او شتمن هیواد په توګه د افغانستان په پراختیا کې ونډه واخلي. مننه

### د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم په وړاندې دفتر

سهار مو په خیر او ستاسو ټخه مننه چې نن مو دلته تشریف راوړلي دي. د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د ۶۰ کلیزې د کمپاین موضوع وقار او عدالت د ټولو لپاره ده. د وقار نظریه زموږ د بشري حقونو د پایښت لپاره اساسي ده. که چیرې تاسو ځوک د هغه/هغې د بشری وقار ځخه محروم کړې، نو تاسو هغه ته زیان رسوي. تاسو د افغانانو په حیث د یو شمیر زیاتو کسانو په پرتله دا موضوع ښه درک کوې ځکه چې تاسو د وقار او سر لوړی تر منځ په اړیکه پوهیږې.

د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د بشری وقار تصدیق د یوه مرکزی ارزښت په توګه کوي. د افغانستان اساسي قانون هم د دې تصدیق کوي. آزادي او وقار د تعرض ځخه مصون دي. حکومت د بشري وقار په درناوی او ساتلو مکلف دی. دا په هر انسان: ښځه، نارینه او ماشوم د اجرا وړ ده.

دا په تاسو باندې هم د تطبیق وړ دی که چیرې تاسو د یوه جرم د ارتکاب په ترسره کولو محکوم شي. او که چیرې تاسو په زندان کې یاست. تاسو حق لري چې له تاسو سره ښه چلند وشي.

له دې نه وړاندې چې زه زما د مقدمې دوو مهمو ټکو ته ولاړ شم، زه غواړم په دې اړه ټینګار وکړم چې د افغانستان د اساسي قانون ۲۵ ماده د بې ګناهي د تصور په هکله ډیر روښانه موقف لري: پدې ماده کې راغلي:

د ذمې برائت اصلی حالت دی تر هغې چې د با صلاحته محکمې په قطعی حکم متهم محکوم علیه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کیږي.

ددې لپاره چې دا په حقیقت تبدیل شي، تاسو باید د دفاع حق ولري، دا هم د افغانستان د اساسي قانون د ۳۱ مادې له مخې حق دی،
هر ځوک کولای شي چې د له نیول کیدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکیل وټاکي.

په هيواد کې له ۶۰۰ څخه لږ مدافع وکيلان شتون لري.

اجازه راکړئ اوس د بند د پوښتني په اړه څه ووايم. به نړۍ کې هر چيرې، په زندانونو کې د وګړو شمير په زياتيدو دی. زيات او زيات کسان په زندانونو کې د ميلو تر شال لويږي. په ۲۰۰۱ کال، په هيواد کې نږدې ۶۰۰ زندانيان موجود ده. نن ورځ دا شمير ۱۲،۵۰۰ کسانو ته لوړ شوی دی. د همدې جملې څخه ۳۵۰ تنه ښځې دی چې د زندان د وګړو ۳ ٪ ارقام جوړوي. منځنی حد ۲- ۹ ٪ ده، نو افغانستان مخکښنه نه ده خو په ټيته کچه کې راځي.

په ټوليزه توګه ويل کيږي چې ښځې د نړۍ په کچه د لږو جرمونو ارتکاب کوي اود هغوي ګناه هم کمه جدی وي.

په ۲۰۰۶ کال کې، موږ د کابل په زندانونو کې د ښځو يوه سروې ترسره کړه. د هغوي نيمايي برخه د ياد شويو اخلاقي جرمونو لپاره لکه د کورونو څخه د تيښتې په تور په زندانونو کې اچول شوې دي. په نورو هيوادونو کې دغو ښځو ته د قربانيانو او نه د مرتکبينو په سترګه کتل کيږي.

ښځې په زندانونو کې د نړۍ او افغانستان په کچه بيلا بيل شامنظرونه لري- د ټولو ښځينه وګړو په پرتله، هغوي اکثرا د جنسي تيری او داخلي خشونت قربانيانی دي.

د نارينه او ښځينه زندانيانو تر منځ ستر توپير په دې مانا دی چې د ښځينه زندانيانو په خاصو اړتياوو اکثرا سترګې پټيګړي. د ښځينه زندانيانو کم شمير لوجستکي ستونزې رامنځ ته کوي،

هغوي د نارينه وو په پرتله د ټوليزې شړنې د ستونزو څخه زياتې متاثره کيږي. هغوي د هغوي د کورنيو او ماشومانو د جلاتوب څخه کړيږي. هغوي د خپلو ماشومانو په هکله تشويش کوي.

د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر يو نوښت لاري ته اچولی چې د ښځينه زندانيانو اړتياوو ته پاملرنه وکړي. د اطريش د هيواد په مالی مرسته به موږ وکوالی شو چې د هغوي د بيا ميشتيدنې، شخصی انکشاف، معارف او روزنو ته وده ورکړو. د زندانونو ښځينه کارکوونکې په دې اړه مهم رول لوبوي چې د زندانيانو لپاره د زندان څخه د باندې شرايط برابر کړي. د دغو مودونو او هغو څيړنې پر اساس چې په ۲۰۰۶ کال کې ترسره شوي، موږ د ښځينه زندانيانو د کارکوونکو لپاره يو لارښود تيار کړي.

دا لارښود او هغه ارزونې چې پر دې اساس ولاړې دي،په دې مانا نه دي چې د نورو موادو او روزنو ځای ونيسي، ټول زندانيان بايد دغو موادو ته لاس رسي ولري. د دې کار موخه دا ده چې په زندانونو کې د ښځو او نارينه وو د شامنظر په خاطر د هغوي دواړو خاصو اړتياوو ته توجه وشي.

داخلي خشونت، جنسی تيری او داسې نور. زندانونه د اکثريت يعنی نارينه وو پخاطر جوړ شوی او نه د ښځو لپاره ځکه چې ښځې په اقليت کې دی.

اوس دوهمې برخې ته راستنيږو: زنداني کيدل

د محاکمې وړاندې توقيف کيدلای شې يوه استثنی وی نه يو حتمی معمول/ اصـل. خو دلته دا هميشه يو معمول دی، په تيره بيا کله چې تاسو بې وزلې او بې ځواکه ياست. که چيرې تاسو ځواکمن دوستان ولرئ نو کيدلای شې چې هيڅ محاکمه نه شئ. پوليسو ته د تيلفون د لارې هغه چا چې تاسو نيولې ياست کيدلای شې چې بيرته مو آزاد کړي. زه دې ته تيلفونی عدالت وايم.

په کندهار کې د دوو ځوانو هلکانو د قضيې څخه موږ د ۲۰۰۸ کال په می کې خبر شو؛ هغوي د تنکيو ځوانانو د اصلاح په مرکز کې يونيم کال د دې لپاره زنداني وو چې موبايل تيلفون يې غلا کړې ؤ او لا تر اوسه هم نه دې مجازات شوي. په دې توګه حتی موږ په دې نه پوهيږو چې آيا هغوي تيلفون غلا کړی ؤ.
وګړي د خپل زندان د مودې د پوره کولو وروسته هم په زندان کې پاتې کيږي. دا يو عجيب عمل دی چې يو شخص دوه برابره جزا ګوري، زندان او جريمه ورکړي نو د جريمې له کبله نور په زندان کې پاتې کيږي.

قانون څرګنده دی که چیرې تاسو جریمه نه شي ورکولای نو تاسو په اعظمی ډول ۹۰ ورځې زیاتې په زندان کې تیرې کړئ. خو د دې سره سره هغوي اکثرا دوې د ډیرې مودې لپاره په زندان کې ساتي. د مثال په ډول موږ په کندهار کې په ۲۰۰۷ کال کې ۱۶ داسې کسان ولیدل چې د ۶ میاشتو څخه تر ۲ کلونو پورې د زندان د جزا څخه وروسته پاتې وو او ۱۱ کسان مو په ۲۰۰۸ کال کې وموندل چې هغوي نه شو کولای جریمه اداء کړي. او ددې لپاره چې هغوي رشوت نه شو ورکولای چې د آزادۍ حق تر لاسه کړي.

د زندان حالت ډیر ناوړه دي، د هغو هلو ځلو سر بیره چې باید دغه شرایط ښه کړای شي. زنداني کول باید داسې لومړنی جزا نه وي چې ستاسې ذهن ته د ډیرو قضیو لپاره راشي او په تیره بیا د ډیر زیانمن کیدونکو کسانو لپاره لکه: ښځې، ماشومان، هغه کسان چې ذهني تکلیفونه لري او هغه کسان چې په نشه یې توکو روږدي دي. او هغه کسان چې د لومړی ځل لپاره پرته د تیری څخه مجرم شوی وي.

موږ غواړو چې د وګړو سره مرسته وکړو چې د جرم او سزا په اړه د سره غور وکړي. د زنداني کولو او مجازاتو نورو شکلونو د نقش او اغیزو په اړوند د عوامو، رسنیو او پالیسي جوړونکو تر منځ یوه مباحثه رامنځته کړي. موږ هیله لرو چې دا به د شواهدو او مدارکو پر بنسټ د لا منطقي پالیسي جوړوني په لاره کې مرسته وکړي.

زنداني کول اکثره وخت یوه ډیره قیمتي او لګښتي طریقه ده او یو ناوړه حالت لا هم ناوړه کوي. همدارنګه په دې هیواد کې زندانونه ډیر زیات ډک دي چې هلته د تبرکلوز او ایډز خطری هم شته.

نو ځکه زه په دې باور یم چې افغانستان باید بدیلې لارې د زنداني کولو لپاره ولټوي. موږ په دې اړوند یو رپوټ وړاندې کوو. ډیر شمیر بدیلونه د محکمې وړاندې توقیف او زندان لپاره شته چې د جزا په قانون کې او د تنکیو ځوانانو لپاره په قانون کې راغلي.

ننګونه دا ده چې ددې باور تر لاسه شي چې دغه بدیلونه په عمل کې پلي کیږي ولی په نادره توګه لیدل کیږی چې دوي په عمل کې پلي شي. نورو انتخابونه د ضمانت (د محاکمې تر مخه) جریمې (خو دا باید حبس سربیره نه وي)، تعلیقی مجازات ، په مشروط ډول د وخت څخه وړاندې آزادول کې شامل دي.

په کور کې توقیف، د خوځښت محدودیت هم ترسره کیدای شي، د مثال په ډول د یوې مور په کور کې ساتل تر څو د ماشومانو او نورو څخه پالنه وکړئ به غیر له دی څخه چې د کور څخه بهر ووځي. د مخدره موادود اعتیاد درملنه په صحی مراکزو کی بغیر له دی چی هغوی زندان ته ولیګدول شي.

ځیني د دې بدیلونو څخه د ټولنې په خدمتونو پورې اړه لري. لکه د ماشوم د خوندیتوب خدمتونه، چې یو دلیل هم دا دې چې د بدیلونو څخه ډیر کم د ماشومانو د جرمونو په وړاندې ګټه پورته کیږي. د هغه قاضیانو او څارنوالانو شمیر هم ډیر کم دي چې د ماشومانو د قانون په اړه تخصص ولري. نو ځکه نه یوازې د زندان کارکوونکي بلکه د جنایی جزا په نورو برخو کی هم باید اړیني روزنې د ښځو او تنکی ځوانانو د اړتیاو د برابرولو لپاره ترسره شئ.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**کلید:** لکه چې تاسې خبر یاست، دولت د اعدامولو پروسه چټکه کړې ده او پرون یې اته تنه بندیان د پلچرخی په زندان کې اعدام کړل. آیا د یوناما نظر په دې باب څه دی او آیا تاسو د دغې پروسې ملاتړ کوئ؟

**د یوناما د بشری حقونو څانګه:** دا یوه ډیره په زړه پورې پوښتنه ده چې له توقیف سره ډیره نږدې اړیکه لري. زه یوازې غواړم دوه درې ټکی بیان کړم، کله چې لومړنی اعدامونه د نومبر په نیمایي کې پیش شول، د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کمشنر یوه وینا خپره کړه چې په هغې کې یوناما او پاتې ملګري ملتونه په افغانستان کې د اعدامونو په اړوند د هغو دلیلونو له کبله په اندښنه کې وو چې زه به یې تشریح کړم. لکه چې نن سهار مو بحث وکړ په افغانستان کې قضایي سیستم ډیر کمزوری دی، او دا ډیرې پوښتنې د هغه چا په

هکله رامنځ ته کوي چې په توقیف کې دي، آیا دغه کس ګناه کار دی او که بېګانه؟ یوناما د هغو خلکو په باره کې چې اعدامیږي په اندېښنه کې ده، حتی په هغو هیوادونو کې چې د افغانستان په پرتله خورا قوی زیرمې او خورا زیات ځواکمن تاریخ او عدلی سیستم لري او افغانانو ځان له داسې حالت سره مخامخ لیدل دی چې بیګناه خلکو د اعدام سزا لیدلې ده، د بې ګناه خلکو اعدامول په ځرګنده ستره بې عدالتي ده.

له همدې سببه په ملګرو ملتونو کې ایله یو کال د مخه د عمومي اسامبلې تر سلو ډېرو هیوادونو د مرګ د سزا د ځنډولو غږ وکړ.

**د آزادی راډیو:** تاسو د پخپل سر توقیف په باب د څېړنې خبره وکړه، چې ګواکې خلک وروسته له هغه هم په بند کې پاتې کیږي چې خپله د بند موده یې تیره کړې وي. ایا کولای شئ د هغو خلکو شمیر راته ووایاست چې پخپل سر توقیف شوی دی او د هغوی پر ضد اصلی تورونه څه دی؟

**د یوناما د بشری حقونو څانګه:** دا یوه ډېره په زړه پوري پوښتنه ده. زه ویریږم چې موږ اعداد نه لرو ځکه موږ د تر ۲۰۰۰۰ زیاتو قضیو په باب څېړنه وکړه، چې البته هومره هر اړخیزې قضیې نه وې، نو له دې کبله له بده مرغه موږ د شمیرو تصویرونه نه لرو، لاکن موږ د دې ښه پوهه لرو چې د دغو ستونزو لاملونه څه دی او زه به د دغو لاملونو دری لاملونه بیان کړم.

دري موضوع ګاني: افغانان اکثرا د هغو فعالیتونو په خاطر توقیف کیږي چې په افغاني قانون کې جرمونه نه دی. دا یوه موضوع ده. خلک تر هغه څه ډېره زیاته موده په توقیف کې ساتل کیږي چې قانون اجازه ورکوي او کرستینا یو شمیر دلیلونه بیا کړل چې ځرنګه پیښیږي او ستونزې یې څه دی.

خورا مهمه خبره دا ده چې خلک همدارنګه توقیف کیږي ځکه چې د محکمې معیارونه او د عادلانه محکمې کړنلارې په دې هیواد کې له پامه لویدلي دی. لکه چې کریستینا یاده کړه او زه دا خبره تاییدوم چې خورا ډېر افغانان حقوقي مرستې ته لاس رسې نه لری. هغوی مدافع وکیل نه لري. او یا دا چې هغوی کوم قاضی ته نه راوستل کیږي وروسته له هغه چې د محاکمې څخه مخکې دوره کې په توقیف کې ساتل شوي وي.

**بی بی سی:** څو میاشتې وړاندې په زندانونو او توقیف ځایونو کې چې د ملي امنیت د ریاست لخوا کنترول کیږي د ځورونو په اړه ځینې رپوټونه موجود وه او همدارنګه د ښځو په توقیف ځایونو کې د جنسي تیرۍ په اړه هم رپوټونه موجود وه، آیا تاسو په دې هکله کومې موندې تر لاسه کړې دي؟

**د یوناما د بشري حقونو څانګه**: دا پوښتنه هم ډېره ګټوره پوښتنه ده. اجازه راکړئ په دې هکله څه معلومات وړاندې کړم، د یوناما د بشري حقونو د ځانګې نظارت د پخپل سر توقیفونو په اړه وه. د نظارت د ملي امنیت د ریاست او یا ځورونې په اړه نه ده. موږ د نورو رپوټونو او څېړنو پر اساس په دې پوه یو چې ځورونه په هیواد کې یوه ستونزه ده. تاسو د توقیف ځایونو د شرایطو په هکله یادونه وکړه، زه فکر کوم چې دې پوښتنې ته به کریستینا ښه ځواب ووایي. بیا تاسو د جنسي تیرۍ ډېرې ځورونکی قیصې او حقیقت ته اشاره وکړه چې اکثرا ښځې او ځواني نجونې د دې قرباني کیږي. که چیرې هغوی د عدلي شکتور میکانیزمونه ته د مرستې د تر لاسه کولو لپاره مراجعه وکړي، نو اکثرا هغوی د ورته کړنو سره مخامخ شي. دا په هیواد کې یوه ستره موضوع ده او نوی کال ته په داخلیدو سره به د یوناما د بشری حقونو واحد دی مسلې ته زیاته پاملرنه وکړي.

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر**: د پولیسو له خوا د جنسی تیرۍ پوښتنه ډېره جدی ده او دې پوښتنې ته آغلي نورا هم اشاره وکړه، پولیس د ساتنې لپاره دی. که چیرې تاسو د مرستې د تر لاسه کولو لپاره هغوی ته مراجعه وکړې او بیا د هغوی له خوا ورسره ورته سلوک وشي نو دا ډېره جدی مسله ده. دا خبره دا جوته وي چې موږ په دې اړه په عام ډول خبرې وکړو. لکه څنګه چې آغلي نورا وویل، یوناما به دغې موضوع ته نظر اچوي او ددې پر اوریدو زه ډېره خوشاله شوم.

**ایرنا:** آغلي اوګز د بديل حبس په اړه وغږيدله. آيا تاسو کولای شئ مونږ ته ووایاست چي دا په واقعيت کي د افغانستان لپاره چي يوه عنعنوی ټولنه ده د څومره حده پوري امکان لري؟

**د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د مبارزی دفتر:** زه نه پوهيږم چي د دی سره څه ډول چلند وکړو چي محافظه کاره واوسو او يا نه. زه فکر کوم چي ډير داسی کسان شته چي زه يي فکر کوم، زه د اکثريت وګړو په هلکه دلته غږيږم چي هغوي ژوند، آزادی او وقار غواړي. زه فکر کوم چي د خلکو سره ستونزه نشته او زه باوري يم چي دا د هغو کسانو لپاره ستونزه ده چي پريکړه کوي او نه د عامو خلکو لپاره چي په کلی او يا کوڅ کي دي. زما په آند بايد در زير بنا په اړه او د محلی ټولنو په کچه د خدمتونو د نشتوالی په اړه بايد ډير څه وشي.

دلته دوه شيان د پام وړ دي: يو دا چي د جرم او سزا، دواړو په اړه لکه چي ما وويل بايد په متفاوته او جلا جلا فکر وکړو. او په ريښتونی توګه په دی يو ځل بيا ټينګار ولرو چي تاسو تر هغی پوری ملامت نه ياست څو پوری چي ستاسی ملامتيا نه وي ثابته شوي. دوهم شی دا دی چي په دی اړه فکر وکړو چي تاسو د مجرمانو سره څه ډول سلوک کوئ. تاسو غواړئ چي هغوي اصلاح شی. تاسو غواړي چي هغوي د زندان دباندی ولاړ شی او بيا هغه جرم په څو څو ځله تکرار کړي. يا تاسو غواړي چي هغوي ته دا چانس ورحړئ چي په خپل ژوند کي بدلون راوړي او د ټولني لپاره يو مؤلد او اغيزمن غړی شي. ددی لپاره تاسو بايد ځيني موسسي د ټولني په کچه جوړي کړئ.

د جنسي تيری په اړه يو ځل بيا: زه فکر کوم دلته يو شی په بنستيزه توګه غلط دی. که چيري دلوت يوه داسي موسسه جوړه کړي چي ستاسو وقار او يا محافظت کړي بيا هغه ستاسي وقار باندې تيری کوي.

**ایرين:** پوښتنه د نورا څخه. ناتاييد شوي ريوټونه شته چي په افغانستان کي په سلګونو تنه ملکی کسان له ټولو خواوو حتی د نړيوال ځواکونو له خوا په خپل سره توقيف شوي او شکنجه شوي دي، آيا تاسی داسی قضيیی تحقيق کړيدی؟

**د يوناما د بشری حقونو څانګه:** له دي پوښتنی څخه مو مننه. موږ هم له دغو ريوټونو څخه خبر يو. موږ دغه خنډ ته ګورو خو تر اوسه مو مطالعه او امتحان کړی نه دي ځکه موږ کافی سر چينی او د يوی جامع لاری ته لاسرسی هم نه لرو. خو موږ دغو خنډونو ته هوښيار يو. د ساری په توګه موږ د دغو کسانو څخه چي د توقيف د مرکزونو څخه خوشيی شوي، شکنجه شوی دي، ليدلی دي او د دوي سره خبری کړی دي. نو واقعاً دا يو خنډ دی. له بده مرغه موږ تر اوسه يو جامع تصوير نه لرو. نور سازمانونه لکه د نړيوال عفوی سازمان د تير کال په پای کي يو ريوټ تيار کړي وو چي د افغانستان په هکله خبری کول. نو دا يوه ستره انديښنه ده. دا هم، څرنګه چي ما مخکی وويل، موږ خپل ځانونه دی ته آماده کوو چي دغی موضوع ته په راتلونکي کال کي نوره توجه هم ورکړو. د جګړي په اړه توقيف او شکنجه هم يوه موضوع ده چي موږ خپل ځانونه په خوځښت راولو تر څو دی موضوع ته نور هم ځير شو.

ډيره مننه او د ميلمه وياندي څخه هم ډيره مننه.